خپله ادبی تنده مو دلته خړوب کړی

# د سپوږمی کرښک

لنډی او ټپی

Ketabton.com

رباب زمـــا په غیږ کی راکړی

زه می د خپلی ځوانی ویر پکی کومه

خدای دی زما د غیږ رباب کړه

چی همیشه دی په مری ګوتي وهمه



(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال : اسمعیل خان «امینی»

کال: ۱۴۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | د سپوږمۍ کړنګ |
| موضوع: | ټپې (لنډۍ) |
| لیکوال: | اسمعیل خان «امینی» |
| کال: | ۱۴۰۱ ل.ل |
| ډیزاین: | اسمعیل خان «امینی» |

د اړیکې شمیرې:۰۷۸۹۸۶۹۹۶۹-۰۷۶۵۶۸۲۶۱۸-۰۷۹۷۴۹۶۰۶۹

| | |
|---|---|
| بیه: | ۱۰۰ افغانۍ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ

لنډۍ د پښتو د ولسي سندرو يوه ستره او مهمه برخه ده او د خلکو په سندرو کې ځانګړی جوړښت او لار لري. لنډۍ د انسان د غوټه شويو فريادونو ريښنو ته ځان رسوي. لندۍ له سترو زړونو څخه راوتلي چې نمونه يې هم ستره ده. لنډۍ د عشقونو او رنځونو ژبه ده او په تورو شپو کې سندرې بولي، په ګلابونو کې خاندي، په غوټيو کې سپړېږي او د دښتو له بادونو سره ناځي او ژاړي.

د پښتو لنډيو اغېز او تاثير دومره زيات دی چې په نورو شعرونو کې ډېر کم پيدا کېږي، په تيره بيا هغه وخت چې پښتانه زلميان او پښتنې پېغلې او يا پښتانه شپانه په دنګو دنګو غرونو کې ګرځي او دغه لنډۍ په خوږو خوږو اوازونو او طبيعي شوق او ذوق سره وايي، نو اورېدونکي ته ښکارېږي چې د خلکو د سندرو ويل څومره خوند لري او د شعر په نړۍ کې څومره د قدر وړ دي.لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنی شعري فورم دی،خو د مانا د ځواک او ليږد له پلوه نه يوازې په پښتو شاعرۍ، بلکې په نړيواله شاعرۍ کې يې ساری ليدل شوی نه دی. لنډۍ هغه ځانګړې دايروي سر تړلې زنځير دی چې هيڅ سر يې په بلې لنډۍ پورې تړل شوی نه دی، يعنی هره لنډۍ پر لومړۍ مصرې پيل او پر دويمې مصرې پای ته رسيږي چې په دې ترتيب يو مستقل او ځانګړی مطلب په لنډ ډول په کې ځای شوی او تمام شوی وي. د لنډۍ کمال په دې کې دی چې مجموع په (۲۲) څپو يا دوو مسروو کې دروند مانيزبار او ښکلا ليږدوي،د لنډۍ لومړۍ مصره (۹) او دويمه مصره (۱۳) څپې لري، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ مصره

چې

د

خا

لو

لښ

ک

رې

را

غلې

دویمه مصره

زه

به

ګو

مل

ته

د

خپل

یار

دي

دن

ته

ځ

مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ عموماً قافیه نه لري ، خو د دویمې مصرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري چې د لنډۍ ټول اهنګ بشپړوي . هره لنډۍ باید د زور (هـ) په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، او که په پای کې دا زور (هـ) رانه شي نو اهنګ یې نیمګړی یاتې کېږي . همدارنګه د لنډۍ په پای کې ځینې حروف او کلمې د اواز د اوږدېدو لپاره او یا ځینې ردیفونه لکه (مه ، ونه ، دینه ، مینه ، وینه) هم راځي ،کله هغه لنډۍ چې د (مه) په تورو پای ته رسېدلې وي.

رباب زما په غېږ کی راکړی
زه می د خپلې ځوانۍ ویر پکې کومه
هغه لنډۍ چې د پای توری یې (ونه) وي.
په لوړو غرو د خدای نظر وي
پر سر یې واورې وروي چاپېر ګلونه
داسې لنډۍ چې په پای کې یې (مینه) راغلې وي.
خدای به په خپله مازدیګر کړي
د چینارو سرو ته مه خېژه مینه
هغه لنډۍ چې وروستی توری یې (وینه) وي.
د سپینو غاښو دې برېښنا شوه
چا ویل ږلۍ ده په تیرا یې ورووینه
او دا هم هغه لنډۍ چې په پای کې یې (دینه) راغلی وي.
یا دې د زلفو خوشبویي ده
یا دې د عطرو په چینه لامبلي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې داسې لنډۍ هم شته چې د دواړو مصرو سیلابونه یې د لنډۍ په قانون برابر وي ، یعنې لومړۍ مصره یې (۹) او دویمه یې (۱۳) سیلابونه وي ، خو پای یې له پورتنۍ قاعدې او قانون سره سمون نه خوري ، یعنې په پای کې یې (مه ، ونه ، دینه ، مینه ، وینه او نور) نه وي راغلي چې دغه لنډۍ که څه هم بشپړ مطلب لري خو د لنډیو د ویلو په ټولو طرزونو ښه نه ویل کېږي ، په ځانګړې توګه له اکثرو سرو کو سره د ویلو په وخت کې سکته پیدا کوي او وزن له لاسه ورکوي ، خو دغه ډول لنډۍ ډېرې کمې دي ، لکه:

د ازل برخې یې وېشلې
د چا یې ښې کړې د چا شولې لوغړنې
د زړه له سوزه به نارې کړم
په اوسېلي به د اسمان ستورې نینې کړم
لنډۍ له سروکو سره هم ویل کېږي او ډېر زوړ او په زړه پورې دود دی ، لکه:
لونګ کړمه که لو مې ګډ کړو
یاره تا به راوله لونګ کړمه
لاس به دې وتړم په زلفو
لونګ کړمه ، په لونګین به دې وهم چې مړ دې کړمه
لونګ کړمه که لو مې ګډ کړو
یاره تا به راوله لونګ کړمه
همدارنګه د هرې لنډۍ د لومړۍ مصرې څلورمه او اتمه څپه او د دویمې مسرې څلورمه ، اتمه او دولسمه څپه ځجنه وي ، لکه:
غم دې راځيَ بې غمه نهَ یم
بې غمه خدَای دی بنده تَل په غم کې ویَنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ ته ورته د نورو ملتونو ولسي شعرونه لکه د دري ژبې دوبيتې ، د روسي ژبې چستوشکی او د اسپانيايي ژبې (Cante ,Jondo) زيادتره بې منظرې اوازونه دي ، په دې اوازونو کې د انسان په تېره بيا د عاشق او رټل شوي انسان اوازونه راغبرګ شوي دي . په دې شعرونو کې د منظرې او تصوير جوړولو لور ته پاملرنه نه کېږي ، د هغو لپاره نه باران شته ، نه ږلۍ ، نه توده غرمه ، نه شين سحر ، نه غرونه او نه بيابانونه.

لنډۍ لکه اسپانيايي (Cante , Jondo) مطلق بې منظرې اوازونه دي ، بلکې کله کله د انسان په ځېرلو کې له طبيعت او د هغه له ښکلو منظرو څخه مرسته غواړي او د همدې موخې لپاره د منظرې په جوړولو لاس پورې کوي ، خو په دې منظرو کې نه حل کېږي او هغه د انسان د باطني غوښتنو او ننيو شخړو د افهام د بشپړاوي لپاره استعمالوي او ښکلې منونکې مجسمه دومره رابرسېره کوي چې د لنډۍ اصلي موضوع (انسان) او د هغه د احساساتو بيان د شکلونو او منظرو تر جسمه جار کړي او فرعي موضوع د اصلي موضوع ځای ونيسي.

همدارنګه د پنجاب (ماهيا) د تحقيق له پلوه تر ډېره حده له (لنډۍ) سره لګي ، دا دواړه صنفونه په يوه نيمه مصره کې پوره کېږي . په دواړو کې زيات د مينې اظهار او هم د دواړو موضوع له بنيادي پلوه يوه وي او دواړه اصناف په خپله په عوامو کې له پخوا څخه بې حده ښکلي دي . د دواړو د وينا طرز هم يو دی خو له دې سره سره په دواړو کې څه خبرې بېلې دي ، لکه په پښتو لنډۍ کې هميشه يوه قافيه چلېږي ، خو د پنجابي په ماهيا کې د قافيې هيڅ قيد نشته ، دويمه د لنډۍ په يوه نيمه مصرهکې د لومړۍ نيمګړې مصرۍ د دويمې پوره مصرۍ سره پوره تړون وي ، خو په پنجابي ماهيا کې په عام ډول د لومړۍ نيمګړې مصرۍ له دويمې پوره سره هېڅ اړيکه نه شته . په هر حال د پنجابي ماهيا او پښتو لنډۍ د صنف له پلوه يو تر بله ورته دي ، خو د لنډۍ د قدامت په اعتبار دا ويلای شو چې پنجابي ژبې دا صنف له پښتو څخه اخيستی دی ، نو ويلای شو چې په کومه زمانه کې چې د پښتو د شاعرۍ ابتدا کېدله په هغه زمانه کې لا د پنجابي ژبې نوم او نښان نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ په پښتو کې په مختلفو نومونو يادېږي او په هر چاپېريال کې بېلابېل نومونه ورته ايښودل شوي دي ، لکه : د کندهار او پکتيا پښتانه يې لنډۍ بولي ، چې دا اصطلاع د اکثريت په توګه په دوی کې موجوده ده ، دا تسميه ښايي په دې بنا وي چې لنډۍ خلک يو ډول لويشتکي مار ته هم وايي او زياتره د پاړوګرو تر اودې لاندې نه کېږي . بل دا چې د لنډ په معنا دی او لنډۍ د لنډ مغز دی چې مونث ته يې لنډۍ ويل کېږي او هم د دې ډول نظم لومړۍ مصره په سيلاب کې تر دويمې مصره څلور سېلابه لنډه وي.

قلم په لاس ګوتې مې رېږدي

د عاشقۍ لنډۍ (مار) په زړه وهلی يمه

همدارنګه يوسفزي ، پېښوريان او ځينې نور پښتانه مصره او ټپه ورته وايي چې دا نومونه (اصطلاح) سره له دې چې په دوی کې مروجه هم ده د هر ځای باسواده او تعليميافته پښتانه وربانديې پوهېږي ، مسرې ځکه ورته وايي چې مصرۍ د يو شعر نيم بيتي ته وايي ، لنډۍ ته هم پوره بيت نه ويل کېږي ، ځکه پوره بيت هغه ته وايي چې دواړه مصرۍ يې سره برابرې وي ، خو د لنډۍ لومړۍ مصره (۹) او دويمه يې (۱۳) سېلابه ده يانې د بيت له يوې مصره سره تشبېې شوې ، نو ځکه ورته د مصره نوم ايښودل شوی دی.

پښتو لنډۍ لنډه او اغېزناکه ده او د پښتو د لرغوني فولکلور په زړه پورې برخه ده . څرنګه چې د پښتو فولکلور زياتره برخه د ننګ او جنګ پېښې دي او د پخوانيو جنګونو ښه وسله توره وه او بيا مصرۍ توره چې د ډېر مشهورتيا له کبله يې د مصرۍ تورې پرځای يوازې مصرۍ بولي ، نو پښتو لنډۍ چې تورې ته ورته خاصيت لري که توره يوازې څرګند ټپ جوړولای شي نو لنډي هم تر تورې کمه نه ده ، لنډۍ د پټو او څرګندو ټپونو لامل کېدی شي.

لکه:

زما په زړه دې پرهار وکړ

په تا دې وشي د مصرۍ تورې وارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې لنډۍ د ولسي سندرو په زړه پورې برخه ده ، نو پښتانه هم ورته په زړه پورې اوازونه او طرزونه لري . اکثره وخت يې په لوړ ، اوچت او اوږده اواز وايي چې په دغسې ويلو هرومرو اواز ټيپېږي ، نو ټپ ورته وايي او هم دا چې لنډۍ د پټو او څرګندو ټپونو لامل کېدلای شي ، نو له همدې کبله په ټپه نومول شوې ده او همدارنګه څنګه چې مور په ټپولو خپل ماشوم ويده کوي ، د دغسې ټپو په واسطه ويونکي خپل دردېدلی زړه قراروي او ده ته تسلي او سکون وربښي . په کورنيو مجلسونو يا اتڼونو کې له ټپو ويلو سره لاسونه هم پړکول کېږي او له دغسې ټپ ټپ اواز سره چې کوم ساز پيدا کېږي هغه د ټيپې له روح سره ډېر لوی تړون لري.

لکه:

بېلتون ټوپک شو راته ډک شو
ناڅاپه ټک شو په تندي يې وويشتمه

همدارنګه د وردګو ، ننګرهار ، پکتيا او د کابل شاوخوا پښتانه ټيکۍ ورته وايي څرنګه چې لنډۍ عموما له ډېرو اوږدو پېښو ، سوچونو ، خيالونو او تصوراتو هغه د مقصد ټکی په لنډو ټکو کې څرګندوي نو له همدې امله په ټيکۍ نومول شوې ده.

لکه:

ټيکۍ مې ډېرې ورته وکړې
په لااله الا الله يې ختمومه

ډېری پښتانه چې کله د لارې ملګری ورسره نه وي او يا يوازې کار کوي ، نو ښه ملګری يې د همدغه د پښتو لنډۍ ده ، بيا نو له ځانه سره په ورو او ټيټ اواز لنډۍ وايي چې ځينې خلک يې غړانګې بولي .کله چې غم او اندېښنه ډېر زور پرې وکړي نوبيا د خپل غم غلطولو لپاره يې په يوه خاص غمجن او ټيټ اواز ځان سره زمزمه کوي چې دې ډول ويلو ته يې غريبي وايي.

ځينې پښتانه لنډيو ته سندرې او بدلې وايي خوسندرې او بدلې د لنډيو لپاره ځانګړی نوم نه شو بللی ، ځکه چې دغه نومونه د پښتو د ټولو ولسي شعرونو لپاره استعمالېږي ، نو يوازې د لنډۍ لپاره يې خاصولای نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ زیاتې د پښتنو مېرمنو د جذباتو اظهار دی او هم دوی ویلي دي ، خو هر کله چې پښتنه مېرمن د خپلې حیا پړونی نه غورځوي په دې وجه دا ټولې ټپې د چا نوم ته نه شي منصوبېدلای دا په دې خاطر چې د ویونکي د زړه د کیفیت له تاثر او درده څوک خبر نشي . د دوی پر خولو د پښتو مهرونه لګېدلي وي ، د پېغور له وجې یې د داسې قسم د خیال اظهار سره خپل نوم تړل مناسب نه دي ګڼلي . پښتنه میرمن د نړۍ د ټولو مېرمنو په څېر د احساس ، وجدان او ذوق مېرمن ده او د ښه مناسب او نامناسب لپاره معیارونه او قضاوت لري ، خو د فیوډالي او ماقبل فیوډالي شرایطو چوکاټ هغې ته د دې موقع نه ده ورکړې چې د خپل وجدان حکم او قضاوت د خپل ژوند په عمل کې څرګند او اغېزمن کړي ، نو د خپلو لنډیو (ښځمنو لنډیو) یوه مهمه برخه د (نرینه سالارۍ) پر ضد او د ښځې د اوږده اسارت او بېواکۍ د بیان په باره کې وایي او په بېلابېلو مواردو کې د دې ناروا (سالارۍ) د افشاکولو او رسوا کولو لپاره خاص اصطلاحات او سمبولونه استعمالوي او په دې وسیله د ازادۍ او ځان واکۍ پر لوري د خپلې تندې او تلوسې افاده ښیي . د دغو مصطلحاتو له جملې څخه یو هم د (موزي) او (موزیګی) کلمات دي ، دا سمبولونه په لنډیو کې د بې غیرت ، نامرد ، ډارن ، بې پښتو ، بې وجدان ، بې انصاف ، دسیسه کار او شیطان نرینه په مانا استعمالېږي او زیاتره په ښځمنو لنډیو کې د استعمال موارد لري او په هغو ښځمنو لنډیو کې چې د (موزي) او (موزیګي) پر ضد ویل شوي دي د محکومې او اسیرې پښتنې مېرمنې نهایي نفرت ، بېزاري او حسد انعکاس مومي او په عمومي توګه د (پلارواکۍ) د ستم د پاتې شونو ضد انساني او د وحشیانه نتیجو خیرنه او ناپاکه څېره ښیي

لکه:

که مې نصیب د بدو نه وای
چېرې موزي چېرې د لکو صورتونه

همدارنګه د (ستي) د دور له احکامو سره سم به هره کونډه ښځه د خاوند له مړینې سره یوځای ژوندۍ اور ته اچول کېده ، په ځینو نورو لرغونو مذهبونو کې د مړي د سوځولو پر ځای د خښولو عنعنه دود وه ، هغوی به ښځه له خاوند سره ژوندۍ ګور ته سپارله ، دې عنعنو غالباً په هندي آریایي قبایلو او مشایرو کې زیات دوام کړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو په عامیانه شعر په تېره بیا په لنډیو کې د (ستي) د لفظ او دود انعکاس او پراخ استعمال دا اټکل منځته راوړي چې د پښتنې ښځې لرغونې میندې هم (ستي) شوې دي او د دې بشري ضد منسوخ درد رنځ یې ګاللی دی.

لکه:

ګودر دې ونیو تهمتي شوم
په اور ستي وای تهمتي مه وای مینه

د ستي کېدلو او ژوندۍ ښخېدلو احکام یوازې او یوازې ښځې ته اړم وو او نرینه پر دې احکامو محکوم نه وو ، خو په وروستیو پېړیو کې د (ستي) کلمې له عامیانه ادبیاتو نه خاصو ادبیاتو ته لار کړې ده . د لنډیو اساسي مضمون انسان دی ، لنډۍ له (انسان) څخه ځان نه بېلوي هغه موضوع چې لنډۍ له خپل اصلي مضمون (انسان) نه بېلوي ، لنډۍ هغه ایسته غورځوي او نه یې زغمي . لنډۍ یوازې د انسان د غمونو ، ناهیلیو ، بارانونو او برېښناوو نړۍ ته پاملرنه کوي ، انسان تصویروي او د هغه د هیجان توفانونه ، د هغه د اوښکو بارانونه د هغه د قهر او غوسې تندرونه او د هغه د صبر او زغم سمندرونه ښکاروي ، نو له همدې امله لنډۍ د انسان د احساساتو ، عواطفو ، دردونو ، رنځونو او انګېرنو ډېره عالي او دقیقه درجه بندي کړې ده او هغه یې د ډېر خواږه ظریف بیان په موسیقۍ کې بیان کړي دي ، په لنډۍ کې د محروم انسان غم د اوښکو د ناپایه سیند مسافر دی ، داسې غم چې د انسان د غریزې ښکلا او د ده د ازادۍ پر خلاف پر ده باندې تپل شوې دي اوښکې د همدې اوږده او ناپایه غمونو د اسانولو او حلولو په خاطر د لنډیو څپو ته ځان سپاري او په دې توګه د پېړیو په اوږدو مزلونو کې د ځپل شویو او رټل شویو انسانانو د ژوند تراژیدي له لومړیو څخه وروستیو ته او له پېړیو نه پېړیو ته رسېږي.

لکه:

زما د زړه ناپایه غمه
اور دې چې هر څو پېتوم لوګی دې ځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ د آهنګ یا غږ د هر ډول وزن تابع وي ، په هر ډول چې اړوې اړول کېږي. غالباً د پښتونخوا په هر ګوټ او په هره قبیله کې بېلابېل اهنګ او وزن لري ، لکه تیرايي ، شلګري ، ګرم سیري ، پېښوري ، کندهاري ، وردګي او داسې نور او هم په مختلفو سیموکې دا بېلابېل طرزونه ویل کېږي چې تقریبا شاوخوا (۵۰) طرزونه لري، لکه :(یکه زار) ، (یاقربان) ، (راځه راځه) او داسې نور . د لومړۍ مصرې د لنډوالي د دویمې مصرې له اوږدوالي سره د برابرولو لپاره ویل کېږي او دا یې یو قسم د پېژندنې لار هم ده. په لنډیو کې (باد) شخصیت پیدا کوي داسې شخصیت چې کولای شي چې اوږدې لارې په لنډ وخت کې پرې کړي ، هغه کولای شي د ګلونو وږمې او د لونګو خوشبويي د نړۍ یوې برخې ته ولېږدوي او یا دا چې له هر ځایه هر ځای ته ، له هرې خوا څخه هرې خوا ته د غرونو ، بیابان ، سیند ، سمندر ، صحرا د لوړو څوکو له لوري زموږ خواته او زموږ د کلیو کېږدیو ، کروندو خواته تلای او راتلای شي هغه نه ستومانه کېدونکي وزرونه لري ، د مینې او رفا استازی دی او د هر چا محرم ګڼل کېږي ، له هغه نه هیڅوک خپل راز نه پټوي او هر څوک رښتیا ورته وايي له همدې کبله (باد) په ولسي ادب کې د انسان د ټولو اسرارو عشقونو ، غمونو او خوښیو شریک او شاهد دی.

لکه:

یو وارې بیا په دې لار راشه
د سهار باده غرمې مړاوي کړل ګلونه

همدارنګه د تورو شپو او بې څراغه کېږدیو او جونګړو شاعران تر هر چا د سپوږمۍ او ستورو د رڼا او ځلا په ژبه ښه پوهېږي ، نو له همدې امله په عاشقانه لنډیو کې سپوږمۍ هم د باد په څېر ژوند پیدا کوي او د لنډیو د بې نومه شاعرانو د عواطفو نړۍ ته لار باسي او د عواطفو لطیفو انځورګریو په افاده او شکل موندلو کې مرسته کوي.

لکه:

زما او ستا تر منځ شول غرونه
سپینې سپوږمۍ ته سلام کړه سلام به کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لنډیو د زیږېدو او مرګ د چټکتیا او پراخیتا اندازه د ټولنې د اجتماعي اقتصادي بدلون په سرعت او وسعت پورې اړه لري ؛ هر څومره چې اجتماعي اقتصادي وده کړندۍ او انقلابي وي هماغومره د نویو لنډیو د راپیدا کېدو او د زړو لنډیو مرګ او یا بدلون هم کړندی کېږي ، خو د دې خبرې معنا دا نده چې لنډۍ په مشخص تاریخي فورماسیون کې په یوه میزان او بې بدلونه پاتې کېږي ، البته دا یوه اصلي او قانونمنده خبره ده چې کله یو اجتماعي اقتصادي فورماسیون بل اجتماعي اقتصادي فورماسیون ته ځای نه پرېږدي ، د ټولنې په روبنایي قلمرو کې د ژورو انقلابي بدلونونو او تغیراتو لپاره زمینه برابرېږي ، خو دا حتمي نده چې په اجتماعي سیمه کې دې ټول تغیرات حتی سطحي او جزیي تغیرات یوازې او یوازې هغه وخت منځته راشي چې یوه تاریخي مرحله بلې تاریخي مرحلې ته ځای پرېږدي . د فولکلور د ټولو برخو په ځانګړي توګه لنډیو په دې مشخص دوران کې د رازېږېدلو له وخته بیا تر ننه پورې د یو روبنایي تابع جز په توګه پرله پسې توګه تغیر موندلی دی . په دې مشخص فورماسیون کې ډېرې لنډې هست شوي او ډېرې نشت شوي دي ، نوي مضمونونه لنډیو ته ننوتي او ډېر زاړه اصطلاحات او لغات او ژبني علایم له لنډیو څخه لویدلي او پر دې سربېره هغه لنډۍ چې مدلول بها یې له منځه تللي او یا د خلکو له نظره لوېدلې دي په خپله هم هېرې شوي او مړې شوي دي . په دې جریان کې د ځینو لنډیو د ساقطېدو پروسه اوږده شوې او تر قطعي مرګ پورې یې اوږده لاره وهلې ده . په همدې ردیف کې په قوي احتمال هغه لنډې شاملې دي چې د لنډیو هستوونکو او یا د غاړو ایجادګر اخلافو د هغو په لومړۍ یا دویمه فقره کې تغیر راوستی دی او د اصلي لنډۍ یوه مهمه برخه یې غورځولې ده .

لکه:

زما د زړه صدف دې مات کړ
ځکه مې وینې په سینه وهي موجونه
زما د زړه صدف دې مات کړ
زه به تر سترګو مرغلرې تویومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دوو لنډيو کې چې واحده لومړۍ مصره لري يوه خامخا تر بلې مخکې ويل شوې ده او د دويمې لنډۍ خپله لومړۍ مصره له هغه نه اقتباس کړې ده ، دا احتمال ډېر کمزوری دی چې دواړه لنډۍ دې د ويلو شاعرانو په عين وخت کې ويلي وي او که چېرې دغه محال فرض د دې دوو لنډيو په باره کې ومنو ، نو دغه دوه لنډۍ خو په خپله نوع کې يوازينۍ دوه جوړه شوې لنډۍ نه دي ، بلکې داسې لنډۍ ډېرې دي چې دوه دوه ، درې درې او حتی څلور يا تر هغو زياتې په لومړۍ يا دويمه فقره کې سره يو دي . پر يادو شويو مثالونو سربېره داسې لنډۍ هم شته چې په دويمه مسرې کې سره يو شوي دي ، لکه:

ستړکې دې دواړه رانږدې کړه
چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه
تر خماري سترګو دې جار شم
چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه
عالمه سترګو ته يې ګورئ
چې په ژړا شي مرغلرې تويوينه

له دې مثالونو څنې معلومېږي چې دا يو تصادفي شاعرانه توارد نه دی ، بلکې د دې راوړل شويو فقرو معنا داده چې د هر مثال او هرې نمونې په لنډيو کې يوه لنډۍ تر نورو پخوا ويل شوې ده او دويمه ، دريمه ، څلورمه او نورې لنډۍ وروسته راپيدا شوي دي . د وروستيو لنډيو شاعرانو د لنډۍ لومړۍ برخه راخيستې ده او د لنډۍ دويمه برخه يې حذف کړې ده او په خپله يې له خپل ذوق او غوښتنې سره سمه هست کړې او وراچولې ده . د دې تصرف لپاره ډېر علتونه اټکل کېدی شي ، مثلاً د لنډيو هستوونکو د ذوق توپير ، د ټولنيز موقف توپير ، د دردونو او اجتماعي کورونو توپير ، د زمان توپير ، د عمومي ټولنيز انکشاف توپير ، د کلي او کېږدۍ ، فقر او رفاه او د طبيعي چاپېريال توپير او داسې نور د دې سبب شوي چې د لنډيو په دويمه مصره کې لاس ووهل شي او د دې منل شوي علمي اصل پر بنا چې انسان د خپل مادي چاپېريال مخلوق او د هغو طبيعي او اجتماعي مظاهرو بيانونکی دی چې دی يې راچاپېر کړی دی په پخوانۍ لنډۍ کې لاس وهي او هغه د خپلې مشاهدې او تجربې او روحي غوښتنو د بيان چوپړ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکاږي، کله کله د لنډیو په فقرو کې توپیر او بدلون د محلي او قبایلي یا داسې نورو توپیرونو او ملحوظاتو په رعایت منځته راځي او قانوني عمق نه لري.

لکه:

یار مې د خوست زه د پکتیا یم
خدایه خوست وران کړې چې جوړه پکتیا له ځونه

او یا:

یار مې د کابل زه د پکتیا یم
خدایه کابل وران کړې چې جوړه پکتیا له ځونه

په دې لنډیو کې (خوست) د (کابل) ځای نیولی یا د دې برعکس ، خو په دې راز تصرف کې د لنډیو د هستوونکو محلي تمایلات داخل دي او د داسې ترمیمونو په لړۍ کې ناسخ او منسوخ د نوي او زاړه ، د راتلونکي او تلونکي د تسلسل قانونیت نه شي مطالعه کېدی . دا ډول لنډۍ ډېرې دي چې خلکو د اصلي لنډۍ په اعلامو او نومونو د خپلو محلي تمایلاتو پر بنا بدلون راوستی دی او د دغه راز بدلون د لنډیو د مرګ او ترک کېدو په چانولو او حتمي کولو کې اغېزه نه لري . ځینې داسې لنډۍ هم شته چې سره ورته مضمون لري خو الفاظ او ترکیب یې توپیر ښیي ، یانې داسې توپیر چې په محلي قبایلي او ټولنیزو مشخصاتو پورې اړه نه لري ، بلکې داسې ښکاري چې دا توپیرونه د لنډیو د شاعرانو له ذوق ، ادبي سلیقې او ذهني انګېزنو څخه راپېدا شوي او دا تغیر او بدلون کې څه هم د بشپړې فقرې (مصرۍ) تر بدلون محدود او جزيي دی ، خو د لنډیو د تاریخي او نه دردېدونکي تحول د پروسې یوه جلوه اټکل کېدی شي .

لکه:

نصیب تقدیر ته ګناه نه شته
بخت چې کوږه شي تندی تل ډغرې خورینه
عالمه ماته ګناه نه شته
بخت چې کوږه شي تندی تل ډغرې خورینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کاکړۍ غاړې (کاکړۍ)

کاکړۍ غاړې چې کاکړۍ لندۍ يې هم بولي ، د پښتو ولسي ادبياتو يو خوږ ډول دی ، چې راز راز موضوعات (رزم او بزم) د پښتو ټولنيز ، اقتصادي شرايط ، کولتوري پابندي ، ديني او عقيده يي مسايل ، ساده ولسي افکار ، ټوکې او ټکالې او د پښتني کولتور بېلابېل اړخونه ، خويونه او رواجونه په خپله لنډه غبړه کې رانغاړي.

کاکړۍ لنډۍ که څه هم له نامه څخه يې له کاکړو سره تړلې معلومېږي ، خو د ټولو پښتنو اصيل مال دی او په پښتنو کې داسې قبيله نه شته چې د دې لنډيو په جوړولو کې يې لږه يا ډېره ونډه نه وي اخيستي ، دغه ډول له نورو ټپو څخه يو جلا او بېل شی دی ، چې لومړی وار کاکړو نښلولي دي او تر ننه به زيات او کم پنځوس زره کاکړۍ لنډۍ جوړې شوې وي . کاکړۍ لنډۍ له دوو مصرو څخه جوړې وي ، چې کله کله يې د دواړو برخو سېلابونه سره برابر او کله کله توپير سره لري او د دواړو برخو وروستي توري يې سره يو رنګ وي . هغه کاکړۍ غاړې چې هره مصره يې اته سېلابه وي.

لکه:

ښايستې که ستا رضا ده
ستا د قام بدي پر ما ده

د جوړښت د څرنګوالي له معنا دغه غاړې پر پنځه ډوله وېشلای شو:

۱ـ کږې غاړې : دا يې هغه ډول دي چې نه رديف ، نه قافيه او نه هم د څپو برابروالی په کې مراعتېږي.

لکه:

زه نرۍ پاتو له څمه
د بږوب لوړې که دي ليار راکه

۲ـ هغه ډول غاړې دي چې د څپو شمېر يې برابر وي او رديف هم لري خو قافيه نه لري.

لکه:

ازلي قلم مې خوار دی
سپينه ژوند مې په زوال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ هغه ډول غاړې دي چې د څپو شمېر يې برابر وي او قافيه هم لري خو رديف نه لري.

لکه:

په اور دي ستي کورونه

خداى دي ژلګي کې لوى نذرونه

۴ـ هغه غاړې دي چې قافيه او رديف دواړه لري او د څپو شمېر يې هم سره برابر وي.

لکه:

په ربه ارمان به مړه سو

که به ګډ په پښتانه سو

۵ـ ازادې غاړې دي چې پرته له وزن څخه ، نه قافيه لري او نه هم رديف لري.

لکه:

تر ساړه شمال دې جار شم

ترپې پورته خراسانه

بايد ووايو چې ولسي ادب ټاکلى تاريخي بنسټ نه لري او دژبې ، کلمو ، رواجونو ، انځورونو او يادولو څخه يې د وخت او لرغونتوب بنه اټکل کېږي . لکه موږ چې په لنډيو کې نمونې لرو:

که د خالو لښکرې راغلې

زه به ګومل ته د خپل يار ديدن ته ځمه

څنګه چې خالو د سلطان محمود غزنوى يو سرلښکر و او د ګومل پر لاره هند ته تلو راتلو او د خالو د لښکر پر يوه سرتېري مينه د خپل اشنا د ديدن لپاره ګومل ته ورتله ، نو له دې څخه څرګندېږي چې دا لنډۍ د سلطان محمود غزنوى په زمانه کې جوړه شوې ده . دغه ډول ولسي ادب نور ژانرونه او کاکړۍ غاړې هم په دې توګه پېژندل کېدلاى شي ، د بېلګې په توګه يوه غاړه:

ونه کړېږي د منهو

تېر شول ډيلي له براسو

دلته د ډيلي د کلمې په يادونه کې ډيلي ته د لوى اتل احمد شاه بابا د تګ يادونه شوې ده ، يعنى دا غاړه هماغه مهال ويل شوې ده . په کاکړيو غاړو کې د خبرو اترو او ډراماتيکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړو ترڅنګ کله کله د يوې موضوع په اړه څو غاړې پرله پسې هم راځي لکه د کاکړو د
يوه اتل او د انګرېزانو په مقابل کې د تکړه جنګيالي شېرجان کيسه چې د هر کاکړ تر
غوږونو رسېدلې او تر خولې وتلې ده .

لکه:

چې پاسنی تې خېژاوي
شېرجان سګرېټ ولګاوي
شېرجان خوی د غازي وکئ
د کاکړو رنګ يې ښه کئ

د نورو پښتو ولسي شعري ژانرونو په څېر په کاکړيو غاړو کې هم د ښځې ونډه ډېره ده ،
دا ځکه چې له يوې خوا په پښتني ټولنه کې ډېرې محکومې او خوارې دي ، له بلې خوا
په کاکړيو نارو کې د شاعر نوم ته د يادولو اړتيا نه شته.

لکه:

مجبوري ده ناست يم
زړګی مې غوټ پرې کي ستا غم
له جانانه بېله سومه
لکه ګل ورژېدمه

# ليکوال: اسمعيل خان «امينی»

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په میوند کې شهید نشوې

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

***

اول به کله کله غم وو

اوس مې دفتر شو کروندې پکې کومه

***

په پوري غره لاټين بليږي

یار مې زرګر دې ماته ګوتې جوړوينه

***

کاغذه پورته په هوا شه

اول ترې ځار شه بیا پرې وایه سلامونه

***

سترګې ورېږي ښې وي که غټې

ورږو مین کړم غټو ورک د ملکه کړمه

***

اوبه په ډانګ کله بیلیږي

چه رقیب ما او جانان دواړه بیلوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هلکانو په یارۍ کې
واسکټ مې خرڅ کړو اوس څپلۍ بازار ته وړمه

***

زړه له مې داغ د مینې ورکړ
چه ستا یادونه مې په خیال کې نه راځینه

***

د مینې اور راباندې بل شو
چې مې نظر ستا په بشر ولګیدنه

***

د اثر ډکې سترګې راغلې
زه دې په ځان پسې د غره لیونی کړمه

***

زړه مې په تن کې ناقرار دی
خمارو سترګو دې رسا ویشتلی یمه

***

ښکه نیمګړې محبت وو
زړه مې موړ نه شو وړې تږې پاتې شومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی یاره تخت می پکار ندی

د خپل دلدار سره په بیابان خوشحاله یمه

***

دا سور پالنګ ندی انګار دی

جدا چې یار دی پکی نه راځی خوبونه

***

د خوشحالۍ نصیب می نشته

غم کی پیدا یم غم کی عمر تیرومه

***

زما د کم نصیب ته ګوره

په لاس راغلی یار می ورک د لاسه شونه

***

ظاهره خاندم خوشحالی ده

په زړه می بار دی د شیرین جانان غمونه

***

بنګړی یې مات شول ښه ونه شول

اوس به په کور کی مور ته څه بانه کوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تانه غم دی وفادار دی

ته کله کله غم دی تل راسره وینه

***

د تربور تشه خله بلا ده

دغم مشین یې په ما و چلاوونه

***

په زړه زخمی کور ته روان شوم

په سپین بشر می د فراق اوښکی راځینه

***

په دی وطن به پاتی نشم

یا به سر وخورم یا به راوړم دولتونه

***

دا ته چې ځی په مخ دی ښه شه

ښکلی ځوانی به درته خاوری ایری کړمه

***

زنګنونه راته ساز کړه

زه شبګیرو د بیلتانه وهلی یمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې د ځان غم راسره وو

اوس مې ځان هیر دی ژړا ستا غم کې کومه

***

په غریبۍ دې یاره نه یم

په بې ننګۍ به درنه واخلمه لاسونه

***

خوږه جانانه دامې واوره

زما په مخ کې په بل مه اچوه لاسونه

***

آرمان به هله زما درشي

چه کټ مې واخلي او تورو خاورو ته مې وړینه

***

په یار مې ډیر ډیر سلام وایه

د غریبۍ مې ورته مه وایه حالونه

***

ته په سنګر کې ځان شهید کړه

زه به ټیکرې ستا په زیارت وغوړومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا لوپټه زما کفن شه

چه تور چه تور لحد راباندې زیږ ګلونه شینه

***

زنګ مې دا ستا غمونو زیږ کړو

دا ستا دغمه شپې په ویښه تیروومه

***

زما سلام دې په هغو وی

څوک چې په خپله مینه ځان قربانوینه

***

یو ځل مې قبر خواته راشه

د نوی کور مبارکی راکړه مینه

***

پام چې ځانته غره نشې

که ته چنار یې زه د صبر ونه یمه

***

د پلو نه مې زړه تور شو

په مخ راښور شو ومې نه کړل دیدنونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډی شربت کړه ماته راکړه
چه د پکتیا په لاره ځم تږی به شمه
***

ګودر ته ځم راپسی راشه
منګی می دوه دی نری ملا می ماتوینه
***

ګودر ته ځم راپسی راشه
ما په منګی کی پراتی راوړی دینه
***

یو دی امیل په غاړه زانګی
بل دی نتکی په لوړه پوزه خوند کوینه
***

اختر د ټولو مبارک شی
که مسافر وی که د په خپل وطن کی وینه
***

ګودر ته دواړه خویندی لاړی
مشره ویشتل کړی کشره غشي ورکوینه
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ته رامنډه کړه اختر دی

دواړه لاسونه می کولاو نیولی دنیه

***

اختر په ټوکو ټوکو راغی

نه می کالی شته نه د غاړی امیلونه

***

ته مینه نه یی دروغ وایی

مین خو زه یم چی د خولی ممیز دی خورمه

***

په مادی کړی څه بلا دی

چه یو ساعت رانه جدا وی زړه می چوینه

***

موری لنډی ټوپک می راکړه

په وطن جنګ دی فیرنګیان راغلی دینه

***

موری لنډی ټوپک می راکړه

په ما مینه جلکی بل ته ورکوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمیس دی تور ځادر دی سپین دی

ګل دی په غاړه لونګین ټالی وهینه

***

چی بی ګناه دی یاره پریخووم

اوس په اعتبار په جنکیانو نه کومه

***

ته یوه سپینه خولګی راکړه

تر مازدیګره به دی خوا له نه راځمه

***

راشه زما دپلار نوکر شه

نوکر به ته یې کار به زه درته کومه

***

که تور اوربل می میراتیږی

په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه

***

زما دزړه د باغ ملیاره

دزړه په دشته کی می وکره ګلونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما خو ستا سترګې یادیږي

تیره بانه دې په زړه کې لارې جوړوینه

***

زړګې مې بیا هم نه صبریږي

که ته هر څو راکړې رټلې جوابونه

***

لنډۍ په وار راسره وایه

یوه به یې ته بله به یې زه وایم مینه

***

زما او ستا یارې جوړیږي

یو مې همزولې یې بل مین دربانډې یمه

***

هسې په نوم را سره فرینډ یې

ندې کمنټ شته ندې ویښه لایکونه

***

ستا په یارې باندې شکمن یم

پاسورډ دې راکړه مسنجر دې چک کومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زنګانه می راویده شوی

وخت د مکتب دی غیر حاضر نشی مینه

***

خوله به په زوره درنه واخلم

وړوکی نه یم چی زاریٔ درته کومه

***

خولګی به خاوری درله درکړم

ته لیونیٔ یی په ځجرو وایی حالونه

***

په تورو غرو رانه پناه یی

که می آشنا یی اوس رالیږه سلامونه

***

لنډی په وارر راسره وایه

یار می شاعر دی په قلم یی راکوینه

***

ستا چه واده وی ماخبر کړه

په خپلو وینو به لاسونه سره کومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه له چانه ګیله وکړم

زه تور خامار ته مور اوپلار سپارلی یمه

***

چه ته زمانه یاره بیل شوی

ظالمه مادرسره څه بد کړی وونه

***

دا به زما قسمت خراب وی

په شته جانان کی زه د مینی وږی یمه

***

جانانه دومره غرور مه کړه

زه هم زلمۍ یم زما مه اخله ازارونه

***

دنیمی شپی راتک دی ورک شه

زه څوکیداره تر سهاره ناسته یمه

***

د اشنا په تهمت پره

خاورو کی خړه ودی نه کړل دیدنونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آشنا په تهمت پره
د زړه په وینو دی ککړ دی اندامونه

***

زما جانانه دا می واوره
چی بی ګناه راباندی ونه ګړی ظلمونه

***

په مرګ دی نه مری جانان خوږ دی
په رنځ دی پریوځی چی پوښتنی ته یی ورځمه

***

لالیه ته خو داسی نه وی
د چا خبری دی ضرور منلی دینه

***

یو دی یاری می ورته ویلی
یو یی سوک راکړو دوه یی لوتی وویشتمه

***

جینکی ډلی ډلی راغلی
منګی راواخلئ ځئ چی بر ګودر ته ځونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسافر وړکی سلګی دی

مخ یې وطن ته کی چې ساه یې وخیژینه

***

ته مین نه یې دروغ وایې

نه دی رنګ ژیړ دی نه دی شونډی وچې دینه

***

لنډۍ په وار راسره وایه

ما دلنډیو سپاری ویلی دینه

***

یاری د زور خبره ندی

که زړه دی نه وی بیا دی نه مجبورومه

***

مسافر ته شوی خواره زه شوم

خواره دی مور شه چې سفر ته دی لیږینه

***

د مسافرو مل شی خدایه

د زړه په وینه تیروی د یار غمونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافر تلی در جګه نشوم
ګیله ونه کړی زه سلګو نیولی ومه

***

د پښتنو دستور غلط دی
په دوستانه کی د کور ستر ماتوینه

***

سترګی راپورته کړه جانانه
په زړه می بار دی ستا دلی دلی غمونه

***

په تهمت پړ می په سر کیښود
یار می په سپین میدان می وکړل انظارونه

***

جانان په هیڅ نه رضا کیږی
د دروغجن ملا دی ورک شی تعویزونه

***

جانان زما زه د جانان یم
که په بازار می خر څوی ورسره ځمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان زما سره پښتو کړي

چې سترګې توری کړی لکې ورته پرېږدینه

***

جانان می ستوری د آسمان دی

نه ورختی شم نه می زړه صبر کوینه

***

جانان می لاړو آسماني شو

آسمان چې ځمکې ته راځی قیامت به وینه

***

جانانه تور څادر په سر کړه

ځان مرور کړه چې جرګه در ولیږمه

***

جانانه ته خو داسی نه وی

د چا خبری دی ضرور منلی دینه

***

جانانه خپل وطن ته راشه

پردی وطن د میړو قدر کموینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه خپل وطن ته راشه

په دالانونو کی دی لګي خړ بادونه

***

جانانه خپل وطن ته راشه

غمازان ستا په جدايي اختر کوينه

***

جانانه خپل وطن ته راشه

که خلک ډير دی پری آباد دی خپل کورونه

***

جانانه دومره په ما ګران يې

چی ته روان يې زه دی شمارم قدمونه

***

جانانه دومره راسره وای

لکه بريښنـا چی د بارانه سره وينه

***

جانانه راشه چی پخلا شو

زمونږ څوک دی چی به مونږ پخلا کوينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه راشه چې پخلا شو
عمر د ژمی مازدیګر دی تیر به شینه

***

په خوبولی کلی راغلم
خدایه ناري کړم او که غلی تیره شمه

***

جانانه راشه که دیدن کړی
د زنکدن خولی په ما راغلی دینه

***

جانانه راشه که راتلی شی
ښکلی بشر می په کفن کی پټوینه

***

جانانه زیری می درباندی
زمونږه کېه ستاسی کلی ته درځینه

***

جانانه ستا دزړه لپاره
زه په غرمه دګودر غاړی له درځمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه غلی غلی ګوری

یا دی څه ورک دی یا دی زه لیدلی یمه

***

جانانه غم دی دومره خوړ دی

چی ددنیا خواږه یې خاوری ایرې کړنه

***

جانانه فکر پکی اوکړه

مینه سور اوردی وارخطا نشی مینه

***

جانانه ولی لیونی شوی

په لاره ځی په تیرو ولې زیارتونه

***

جانانه ویښ یې که ویده یې

ستا په کوڅه می لاس تړلی تیروینه

***

جدایي راغله لاری دوه شوی

مرګ می قبول دی جدایي نه قبلومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جینی د پلاره دی ویرېږم

ګودر ته راشه کور ته نه درسره ځمه

***

ځان په ازغو باندی سوری کړه

که چیری غواړی د یار غیږه کی خوبونه

***

ځان د وطن په شمع سیزه

چی پتنګان دی د زیارت طواف کوینه

***

ځان دی زما په دیدن موړ کړه

بیا به مخ په سپین کفن کی پټوینه

***

ځان یی په زړو جامو کی جوړ کړو

لکه په وران کلی کی باغ د ګلو وینه

***

چا یی پلو لیدلی نه وو

اوس د ترخم په سرک ځی سرتور سرونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرګه مرۍ کې دې ناسور شه

زه د لیلا غیږې ته اوس راغلی یمه

***

چنار به ولې سر لوړ نه کا

چې جینکۍ ورلاندې سترګې تورويىنه

***

چې په ژوندون مې پکار نه شوې

که مې د قبر منجاور شې څه دې کړمه

***

چې په ښايست مې خفه کيږې

نور به په ځمکې خوب کوم چې زیږه شمه

***

چې په مرض مې نه پوهيږې

طبيبه مه ګوره زما د لاس رګونه

***

چې پيغله لور يې په کاله وي

پس د ماښامه دې پنځه ډزې ګرځوينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پیغله لور یې په کاله وی
د هغه کور سابه جوارئ مزه کوینه

***

چې تاته ګورم ژړه راشی
چې ځان ته ګورم په ما لاډیر دی غمونه

***

چې تورو خاورو ته می سپاری
په خولی می کیږده د سرکو شونډو سرونه

***

چې توره نکړی نو به څه کړی
چې دی شیدی دپښتنی رودلی دینه

***

چې جنازه می روانیږی
پاس په کفن باندی می وشینده ګلونه

***

چې چیرته ته وای هلته زه وای
نصیب تقدیر می له تا لری ګرځوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې څوک له خپله ځانه درونډ وي
ټـــولـــې دنيـا ته ددرانده ګمـان کـوينـــه

***

چې خط مې وايې ورته ژاړه
ما چې ليکه ورته مې ډېر ژړلي دينه

***

چې خويندې کيني ورونه ستايي
چې ورونه کښيني خويندې بل ته ورکوينه

***

چې ددیدن نصيب يې نه وي
په يوه کوڅه کې سره وړاندې وروسته شينه

***

چې راپسې نه شي قرآنه (کريم)
زه د جانان لپاره لاس درباندې ږدمه

***

د دنداسي خله دې رانه کړه
د نصوارو ډکه خله دې زه نه قبلومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ساه مې اوځي رانږدې شه
په دواړو سترګو راته کېږده سره لاسونه

***

چې سترګې توري کړم شرمیږم
چې شونډې سرې کړم غمازان مې نه پرېږدینه

***

چې سر زما وی خنګل ستا وی
دهغه وخت په انتــظار یـــــم رابه شینـه

***

چې سر زما وي خنګل ستا وي
مـــزه به دا وی چې ویـــــــده د عمر شمه

***

چې سړی هر څومره پښتون شي
زړه چې مین شي پښتو ټوله ترینه ځینه

***

چې عاشقي يې کړې نه وی
هغه به څنګه د ایمان دعوا کوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې فکر بند په زولنو کړم

چې رانه خلاص شي برابر جانان له ځينه

***

چې کله کله راپه ياد شي

ديوال ته کېنم ځان ته غلي وژاړمه

***

چې کلي واله مې ګنډلې

ځکه مې سوال د سپينې خولې درته کاونه

***

چې مازديګر شي زړه مې ښه شي

په ګودر جوړ شي د منګيو قتارونه

***

چې مې په جيب کې دولت ډير وو

خپل مې لا څه چې د پردو خپل شوي ومه

***

چې مې د تورو سترګو وار وو

د چا به کار وو چا به هسې غږ کاوونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وعده وکړي پوره يې نه کړي
ژبه يې پرې کړی چې وعده پرې نه کوينه

***

چې پښتون وی پښتو نه کړي
داسې کسانو ته به ګوری کړنګونه

***

چې هديره باندې تيرېږی
زما مزار ته مخ راواړوه مينه

***

چې يوړم يوړم اوبو يوړم
چې بې ګودره ګډېدم اوبو به وړمه

***

چيرته عاشق سړی ولاړ وی
ساړه ساړه اسويلی کړی باد يې راوړينه

***

څانګه به نن سبا کې ګل شی
ما يې په سر کې سرې غوټۍ ليدلي دينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خنک ته می مه راځه جانانه

سبا به بوی د لونګین درځینی ځینه

***

خنګه په سپینه جامه ګرځې

رب دی مین کړه چی خیرن دی ووینمه

***

خنګه د ورایه په خندا شوی

لکه چی غم دی د زړه ټول هیر کړی وینه

***

خنګه نری یې لکه لښته

مور دی ړنده شه چی په تا اوبه راوړینه

***

خوک په رضا له ملکه نه ځی

یا ډیر غریب شی یا د یار له غمه ځینه

***

خوک چی په چا باندی مین شی

هغه غمجن شی د هرچا د خندا شینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې په شنو سترګو مین شی
پس دمابنامه دی پنځه ډزی ګرځوینه

***

ځوک چې د یار په غیږ کی پروت وی
پــه نـــــورو خلکــو د ږنـدو ګمـان کــوینه

***

ځوک می دحاله خبر ندی
لکه چنار می په ډډ اور ولګیدنه

***

خاونده دا ګناه می معاف کړه
بیا به د خوږ په غاړه نه کرم ګلونه

***

خال یې په غونډه زنه کیږده
بیا ما ورپرېږده چې پری څه نخری کومه

***

خاونده بیا دی مازدیګر کړو
په ګودر جوړ شو د منګیو قتارونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاونده ټوله می تری ځار کړی

زما په سر یې غر غری منلی دینه

***

خاونده څه چاری راوشوی

نه می یار شو نه یې خلاص دغمه شومه

***

خاونده دا به دی رضا وی

چې د ځوانۍ عمر می په غم کی تیرومه

***

خاونده کوم یو پکی خوبښ کړم

مرګ او بیلتون جوړه راغلي دینه

***

خانده ما دګودر ګل کړی

چې جینکۍ می شوکوی سر کې می بردینه

***

خاونده مرګ په ځوانۍ ورکړی

چه جنازه یې د آرمانه سره ځینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خانده مرګ د ځوانۍ راکړی
چې کلۍ کور می د ځوانۍ آرمان کوینه

***

خبر می کله کله اخله
د لیونتوب اواز می نن سبا درځینه

***

خپلو جامو سره می خښ کړئ
جانان په غشو دښو ویشتلی یمه

***

خدایه دمور يي ورته پام کړی
چې په لنډۍ زنه يي ووهی خالونه

***

خدایه دا مور يي لیونۍ کړی
مین پری زه یم اوس يي بل ته ورکوینه

***

خدایه کوچیان په کوچ روان کړی
چې ښایسته بدرنګی ګډيي وډيي ځینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ګرګرې تورې مه کړی

جینکی سری شونډې ورځی توری راځینه

***

خدایه مین څوک په چا مکړی

چی وس یی نه رسی په مخ یی اوښکی ځینه

***

خدای به دی بیا راته محتاج کړی

زومبک زومبک ښی می بیا راغلی دینه

***

خدایه نری نری باران کړی

چی دلیلا کډی تړلی پاتی شینه

***

خدای به دی زلفی په لاس راکړی

مـــاتـه دکلی ماشــومـان دعــــا کوینه

***

خدای به مو سره یو ځای کړی

دسمال راواخله اوښکی پاکی کړه مینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای خو دی دا ځلی راجوړ کړه

بیا می توبه دی ښیری نه درته کومه

***

خدای په تنګه کوڅه راکړه

چی دسینی روپی دی ګډی وډی کړمه

***

خدای دی په داسی ځای کی راکړه

چی ته ناری کړی زه دی غیږ کی ټینګومه

***

خدای دی په سر منګی ټوټی کړه

چی په اوږدو زلفو دی راشی سیلابونه

***

خدای دی په واوره کی ایساره کړه

چی د تودی غیږی می درشی آرمانونه

***

خدای دی دپوزی پیزوان مات کړه

چی د زرګر په دوکان دواړه یو ځای شونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دی زما کړه غونډی منډی

په سر به پنډی چلوم تا به ساتمه

***

خط می لیکو قلم می مات شو

د جانان نوم رانه نیمګړیَ پاتی شونه

***

خلک به وایی چی وړه ده

وړی زما په زړه چاړې منډلي دینه

***

خلک چارګل خونړیَ بولی

ما د نتکیَ په ډنډر ډیر وژلي دینه

***

خلک دی وایی تهمتونه

زه دلیلا په غیرِ کی چا لیدلیَ یمه

***

خلک زیارت ته پټاسی وړي

زه د جانان لپاره غونډه روپی وړمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک شراب وڅکی نشه شی

ما دلیلا د لاس اوبه نشه کوینه

***

خلک قیامت ته خفه کیږی

زه خوشحالیږم چی جانان به ووینمه

***

خلک می ټول تپوس له راغلل

هغه رانغی چی یی پروت له غمه یمه

***

خلکو زړی یاری تازه کړی

زما په نوی یاری اور ولیګیدنه

***

خمارو سترګو ته دی وایه

چی می ماشوم زړګی نور نه ازاروینه

***

خندا کوی یاري دی نشته

تشه خندا د لباسی جنکو وینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خود به يې زه د در ملنګ يم
چې سپينه خوله راته خيرات کې راکوينه
***

خولګۍ دې خورم نه په مړيږم
ناځوانی تا پکی ګنې کرلې دينه
***

خولګۍ دې خورم نه په مړيږم
ليونۍ ښوله راپشا شه چې دې ورمه
***

خولګۍ مې خوره ځو يې خوږې شې
شکره ندی چې په تول به کمه شينه
***

خوله به په زوره درنه واخلم
وړوکی نه يم چې زاری درته کومه
***

خوله به د خدای په رضا درکړم
منګۍ مې ولی ښوروی لمنده دې کړمه
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوله د ډیوې رڼا کی راکه

په توره شپه کی دی زلفان خولی له راځینه

***

خوله دملا دلور خوږه وی

د شکرانې چرګان يې ټول خوړلی وينه

***

خوله دی د تروش انار دانه دی

د رنـځورانو قافیـلې درپسی ځیـنه

***

خوله دی د سپینو زرو جام دی

زما پری پام دی چی هر مین پری اوبه څښنینه

***

خوله می غوښـته ژبه يې راکړه

خدایه سخی جلکی ته ورکړی جنتونه

***

خولی ته می سوړ اسویلی راغئ

زړګیه بیا به دی جانان یاد شوئ وینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د ګودر په غاړې خبښ کړی

ګوندی ملاله پر ما کیږدی قدمونه

***

ما خو دلری نه صحیح کړی

نور دی په تورو زلفو مه وهه لاسونه

***

ما د پکتیا د چینو نه ځار کړی

زما لیلا  به پکی مخ مینځلی وینه

***

ما دګودر په غاړه خبښ کړی

چی جینکۍ می مات منګی په قبر ږدینه

***

ما د نصیب نه تیښته وکړه

نصیب زما دلاری مل راسره ځینه

***

ما دی ټوپی په سر ګنله

د جینکو په وار پیدا ورکه دی کړمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مازدیگر تل لری خاونده

چې مازدیگر په کودر وشي دیدنونه

***

ما سره سم کودر ته لاړ شه

منگی مې غبرګ دی نری ملا مې ماتوینه

***

ماله مې وړئ زړکی راکړه

زه وم نادانه په یارئ نه پوهیدمه

***

ما له وړوکی ربیار ځار کړی

چې یوه خبره راته دوه ځلی کوینه

***

ما ویل یوازی زما یار یې

د اختر ټال یې هر سړی دی زنگوینه

***

ما ویل د غمه به دی مړ شم

قسم دی یاره بې نیتی نشته مرگونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما یارانه کله کوله
سرتور ولاړ وی د ښیرو دی یریدمه

***

ما یې د ورور د سترګو ځار کړی
ده به د خور سترګو ته ډیر کتلی وینه

***

ما یې د ورور د سترګو ځار کړی
د ورور سترګی یې د خور په شانته دینه

***

مازدیګر چیرته وی چی نه وی
خورې ورې زلفی په بام ولاړه ومه

***

مازدیګر پیغلی ښی اغلی
منګی په ولو د ګودر غاړی له ځینه

***

مازدیګر لمونځ دی قبول مه شه
دیدن دی پریښود دایمان کوی سوالونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مازدیګر لموځ رانه قضا شو

نوی مین وم په  دیدن نه مړیدمه

***

مازدیګر دی سوال قبلیږی

خلکو زما په حق کی پورته کړی لاسونه

***

مازدیګری دی بنیری مه کړه

ستا به عادت وی ما به ورک له ملکه کړینه

***

مبارکی راکړی عالمه

د تهمتونو سره یار قبوله کړمه

***

مبارکی راکړی عالمه

نادانه زه نادان می یار ورسیدنه

***

مبارکی راکړی عالمه

چی پری مین وم تری چاپیر می کړل لاسونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ په قبله می دیار کور دی
لمونځ می بانه کړ دآشنا دیدن کومه

***

مخی له راغله راته ژاړی
دلونګین نه یې ځوندی ورک شوی دینه

***

مرګیه دومره صبر وکړه
یو می ځوانی ده بل می ډیر دی آرمانونه

***

مرګی په تنګه کوڅه راغی
ما ویل سلام هغه ویل کور دی ورانومه

***

مړ می دیار په کوڅه یوسی
چې د انجلی د دادا یخ شی اندامونه

***

مسافری په بی غمی کړه
زه پښتنه یم په نامه دی ناسته یمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافری دی ډیره وکړه

راځه راځه روزی به خدای رارسوینه

***

مسافری سخته خواری ده

باران به اوری څوک به ځای نه ورکوینه

***

مسافر مه وژنی عالمه

چیرته به یې خویندی د دیدن آرمان کوینه

***

مسافری روزی مه شه

زه دی په سپینه خولی ویده پری ایښې یمه

***

مسافری خوږلی یاره

قربان قربان دی د زړو جامو نه شمه

***

مسافری می زړه نری کو

چې تش وطن رایادوم ژړا راځینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافری نه ستړی مه شی

اول خوله درکړم که د ی جیب ولټومه

***

مسلمانی په چاکی نشته

مرور ګرځم څوک می نه پخلا کوینه

***

ملنګه دوه ګټی دی وکړی

یو دی خیر ټول کو بل دی وکړل دیدنونه

***

منګیه بخت ته دی حیران یم

اول دی ښکل کړی بیا دی غیږ ته خېژوینه

***

منګی کی موری اوبه نشته

زه د اوبو لپاره کوز ګودر ته ځمه

***

منګی یې ټول په ډنډ غوپه کړ

د شیطانی منګی په لپو ډکوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

منګی په تخرګ کودر ته ځمه
دغه یو ځای دی چی پری کیږی دیدنونه

***

پلار یی خیرات کی نه مریږی
لور یی د لاری میلمانه راستنوینه

***

موری کوچیانو ته می ورکړه
چی تور اوربل می د هلمند شمال وهینه

***

موری کوچیانو ته می ورکړه
کنډک کنډک مستی به خورم غټه به شمه

***

مین زړګی ته می سلام دی
چی تمامی عمر په صبر تیرومه

***

مینه په تک راتک زیاتیږی
مونږ کره مه راځه چی زړه می صبر شینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه په تلو راتلو زیاتیږی

کله کله راځه کله به زه درځم مینه

***

مینه د مینی پیدا کیږی

په مینه مینه دی کتل مین دی کړمه

***

مینه دروغو زړونو کار دی

زمونږه زړونه غریبی وژلی دینه

***

مینه کی هر څه هر څه کیږی

په تا یوه خبره راغله هیر دی کړمه

***

مینی دی داسی لیونی کړم

په لاره ځم خپل او پردی نه پیژنمه

***

ناری وهم ناری می نه اوری

هله به یی واوری چی زه توری خاوری شمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجلی په سر دی منګی مات شه
چې په سرګو شونډو دی راشی سیلابونه

***

جلکی دبام په سر کړه شوه
ورسره کوړ شومه د پانډه ولویدمه

***

جلکی کړه شوه ماته نشوه
مور یې د زیړی غوا غوړی ورکړی دینه

***

جلکی وړه د یاری ندی
کم عقله مور یې ورته سترګی توروینه

***

جلکی ولاړه په لمانځه دی
پیرزو می نشی تورپیکۍ په خاورو ږدینه

***

نری نری لوګی تری خیژي
د چا په نوی یاری اور ولګیدنه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نننی دی ډیری راسره دی

نننی دی څه کړم چی دی سترګی نه ویمه

***

نصیب می خپل د ی رارسیږی

موری زما په نصیب مه کوه جنګونه

***

نصیبه وسوزی ایره شی

تندیه مات شی تاکی څه لیکلی دینه

***

نن خو می ډیر یادیږی یاره

خدای ناڅاپه چرته راوله مینه

***

نن دګودر په غاړه مه ځه

لیلا ولاړه ده په زړه ویشتل کوینه

***

نن می د قبر خواته راشه

مبارکی د نوی کور راکړه مینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه به انځر ورځی ګل شی

نه به زما زړګی  دی غمه خالی شینه

***

نه دی د خان نه دی دبل کړم

د دادا په کور کی دی زړه کړمه ظالمه

***

وایم چی داسی ځای ته لاړ وای

چی ستا دی ډیرو ناکړدو ته وګورمه

***

وخت دځوانی می نیمه خوا شو

یار بی وفا شو ارمانی به ګودر له ځمه

***

ودریدی نه شم غورځیږم

تاو کړي غشي می د غم خوړلي دینه

***

ودی ویشتم پورته دی نه کړم

خلک ویشتلی مرغۍ زر پورته کوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورشه د یار خبر دی واخله

چې بې دیدنه دې ساته لیونۍ شونه

***

ورکه د کور کلی یاری شه

د زنی سر می دیوال کندی کنه

***

وطن به ستا له قصده پرېږدم

ستا چې د حسن دوران تیر شی رابه شمه

***

ستا د قسم وی مرګ راشه

کږه وږه ځوانی می خاوری کړه مینه

***

وطن د مور او پلار خواږه وی

جانانه دری واړه برېږدم تا سره ځمه

***

وطن می تن تن می وطن دی

د ن په وینو به یې ساتمه مینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطن می ستا له غمه پرېښود

خلکو ته وایم چې نیستي آخیستې یمه

***

ولاړه اوسه چې دې وینمه

چا دې صفت راته کاوه راغلې یمه

***

ولې دې سر په زنګنو کړ

ما په ځوانانو کې خوښ کړې یې مینه

***

ولې دې مخ زما نه پټ کړ

آشنا غماز درته دروغ ویلي دینه

***

ولې به زه ورپسې نه ځم

اوربې په غاړه مازدیګر ګودر ته ځینه

***

هر کله راشې د یار غمه

که سل می نور وې تا به پاس په تندي وړمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر مازدیگر دی لوی اختر دی

ګودره ! ځکه دی صفت هر ځای کومه

***

هغه دی هیر دی که دی یاد دی

چې د کړکۍ شمال په دوارو لګیدنه

***

هغه ساعت به کله راشی

چې د آشنا سره به بر ګودر له ځمه

***

یا خو زما په زړه تیاره ده

یا خو په ټوله دنیا پریوتل ګردونه

***

یا خو زما نصیب خراب دی

یاخو به ټولی یارانی دغه شان وینه

***

یار می اووم زه په اتم کی

یو کال به پاتی شم چې دواړه یو ځای شونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار می په شنو سترګو مین دی
زه به دا توری سترګی چیرته بدلومه

***

یار می هندو زه مسلمان یم
د یار لپاره درمسال جارو کومه

***

یاره زمونږ کلی ته راشه
یو څه په جیب کی ستا لپاره ګرځومه

***

یاری په تور او سپین کی نده
دا معشوقی خو غمزنګی خوند کوینه

***

یاری خو تا پری کړه کمبخته
که ما پری کړی وای ژړلی به دی وومه

***

یاری د دنګی جلکی خوند کړی
د پلو لاندی سرې غلی تیروینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاری د شنی لښتی ګوذار دی
چا چی خوړلی رنګ یی ځای ته نه راځینه

***

یاری دی ټوله د ټګی وه
ښه شوه چی زر دی په مطلب ورسیدمه

***

یاری دی نه کوم داریږمه
د لری لری ننداری به دی کومه

***

یاری دی نه وو خوب لیدل وو
څو می چی سترګی غړولی سبا شونه

***

آخری مصره یی دا کړی
اخري مه کړی د خوانانو مجلسونه

***

یو ځلی راغی خوله می ورکړه
لار یی صحیح کړه په غضب ککړه شومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دی غریب پیدا کړم خدایه
بل دی مین په کبرجنی جلکی کړمه

***

یو زخم نه دی چی به جوړ شی
هزار زخمونه می په زړه دی مړ به شمه

***

یو ګوټ اوبه منګی نه راکړه
د وصال نږی یم اوبه بهانه کومه

***

یو واری ټینګه غیږه راکه
بیا دی دادا له ټوپک ورکړه چی راځینه

***

یووازی خدای به پری خبر وی
د خندا ډکه خله خوله به چیرته ناسته وینه

***

یووازی ژوند می پکار ندی
چی جانان لاړو زه به تور لحد ته ځمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله دی تا په چا مین کړی

چې تن دی روغ وی زړه دی پټ کوی دردونه

***

د پلار دی یوه توره وزه وه

تاته دا توری جامې چا وکړی مینه

***

وریجې دی نه خورمه مړه یم

ما سهر چای سره کلچې خوړلی دینه

***

دا سپینه خوله دی هسپتال دی

د برګې سترګې دی ډاکټری کار کوینه

***

وړوکی ورور یې په ژړا کړه

چه شین خالې خور یې په بام راوخېژینه

***

مرګ ته می ولې خوشحالیږی

ځه به می پاتې په میراث کې تاله شینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګذران مې نور ګلې کې نه شي
د مالت خلک پیغورونه را کوینه

***

که یاري کړې نو یار دې زه یم
که یاري نه کړې نو پروا دې نه لرمه

***

په بې وفا مې زړه بایللی
نه مې خپلیږي نه مې زړه صبر کوینه

***

دا خو زړګی دی چې لاټینګ دی
کنې دومره غمونه دریابونه وچوینه

***

په چرایېز ټوپک مې وو له
خو داسې مه وایه چې خله نه درکومه

***

زلفې مې ځکه اوږدې کړې
چې زه په بام یم یار به لاندې زنګوومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوټۍ ما په یارئ پوه کړی

اوس دی دبل غاړه کی واچول لاسونه

***

دا چی د ګل غوندی تازه یم

زه د جانان تر خنګه اوس راپاشیدمه

***

غاړه به ولی هسکه نه وړم

زه په نصیب د خپل آشنا ورسیدمه

***

دمینی نوم لاړو بد نام شو

نن سبا پاکه مینه څوک چرته کوینه

***

د نن سبا مینه دوکه ده

په خوله زما په زړه د بل چاسره وینه

***

زما د مینی نه زړه تور دی

چه زه ژوندی یم بیا به نه کومه مینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلا خو تا ورکړی خدایه

د مینې چل به ورته چا ښودلی وینه

***

ماله په سترګو کې ځای راکړه

زه درله ځای د زړه په کور کې درکومه

***

څنګه به د ښې ورځې خاوند شي

چې زه درله مینه درکوم اوته غمونه

***

زما په غوږ لختې خوریږي

لکه معلم چې په وړکو لښتې خوروینه

***

ورونو اختر ته خویندې بوتلې

بې وروره خویندې څنډلې ته ناستې دینه

***

خوله به په زوره درنه واخلم

زه پکتیا وال یم اوښ په ونه خیژومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مینتوب کې ګټه نشته
ورک مینتوب شه سرې روغ لیونۍ کړینه

***

ځان به په خپله لاسه مړ کړم
د بې وفا جانان به ونه کړم پوښتنه

***

چې د پښتنې مور نه پیدا وې
هغه د یار په عزت سر قربانوینه

***

وایه وایه سبق وایه
چه لوی افسر شې ما به تا ته درکوینه

***

یو دې یارې مې ورته ویلی
جلکې کړه شوه په ښپلې یې وویشتمه

***

زه چه وړه وم لیونی وم
د سپینې خولې د قدره څه خبره ومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

یار می په ډله کی معلوم دی

توره لونګی ګومنې ما ورکړی دینه

***

دا نصیحتونه راته مه کړه

پخپله پوه یم په زړګی لرم حالونه

***

زما د سترګو نظر کم شو

ستا د وطن کوڅی به څه رنګ لټومه

***

یار می په باغ کی خرما غواړی

په سترګو ړوند شی زه خرما ولاړه یمه

***

په زنکدن کی راته راشه

چی می پوره شی د مین زړه ارمانونه

***

زما د کوژدی دسمال راواخلئ

پاس یی جنډه کړئ چی یاران یی وګورینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن می دیار دراتلو ورځ دی

د لاس بنګړی می په دسمال تړلی دینه

***

د سهر باده رب دی وچ کړه

مخ می د یار په لاړو لوند وو وچ دی کنه

***

توره شپه وچاوده رڼا شوه

د ګریوانه ځینې می وباسه لاسونه

***

اسمانه پاس سپوږمی ته وایه

ناوخته خیژه چی زه موړ په دیدن شمه

***

سبا به ټول عالم ته وایم

چی بی وفا راځینې واخیستل لاسونه

***

زما یار نامرده نده

جانانه مکوه په ما باندی شکونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بسم الله ورته ورخيږۍ

د جلۍ کټ د جلغوزی دی مات به شينه

***

وار يې د تورو زلفو تير شو

اوس يې په تورو زلفو نه نخلی بازونه

***

مخ می ديار په خولو لوند دی

تر مازديګره مخ ناولی ګرزيدمه

***

وار به يې تير د پيغلتوب شی

څله د زرکی په شان لنډ پړدی قدمونه

***

مورکی ماته مه قاريږه

نری شمال د مازديګر يم ورک به شمه

***

پيغلتوب عمر د خانی دی

خان چې د چا ديری ته ځی عزت يې وينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغله چې نوی پغلتوب کړی

لکه چهار ساله د نوکونو په سر ځینه

***

اوبه مې څکې ګریوان مې لوند شو

دیار په غیږ به یـې ورو ورو وچومه

***

چه کارته ځی په لیلا شپه کړه

لیلا جوړ کړی د وریښمینو بالښتونه

***

هغه پخوانی مزه دی نشته

لکه د زرو ګنګرئ شور به دی کاوونه

***

د رباب به دی ځونډئ شم

د نامردانو نه مې پټ ساته مینه

***

نن مې د کنډی خال لیدلی

پیغلی دی خواری شی چې نه به ږدی خالونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه به چرسی د چرسو واوړی

نه به عاشق د معشوقې واخلی لاسونه

***

یا می د ځانه سره یار کړه

یا می په تورو خاورو وسپاره مینه

***

دغه د ستا د یاری زور دی

لکه لیونۍ په لاره ځم کوتی شمارمه

***

مسافر ډلی ډلی راغله

زما د یار ډله وروستۍ دی رابه شینه

***

خالونه ډیر دی خدای دی ډیر کړی

د تـــــندی خالـه غـلامی بـه دی کـومـه

***

چه یو مین وی بل پری نه وی

څومره مزه کړی چه زاری ورته کوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاونده روغ دی لیونۍ کړم
چې الله وایمه لیلا خولې ته راځینه

***

خاونده بیا دی پسرلی کړ
دتشه ډاګه دی ګلابو بوی راځینه

***

دا پیغلتوب دی ستا په غم شی
آشنا وچې شونډې ګرځې مړ به شینه

***

مسافری ته دی ځان جوړ کړو
چاړه راواخله ما حلاله کړه مینه

***

یا به می سر خاورې ایرې شی
یا به دی تاو کړم د شیشې غاړې لاسونه

***

که بې له تا وخت تیریدلی
زه به په چیغو چیغو ولې ژړیدمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته د یخی وریجی راوړی

خلک مینو ته شکری ورکوینه

***

دجلی پلاره اژدهاره

لمن دی نیسه چی ډالر درواچومه

***

مین دی کړم خبر می نه اخلی

خدای دی په داسی یاری اور ولګوینه

***

خبری لنډی لنډي وایه

د لاری سر دی څوک به ځی څوک به راځینه

***

خبری لنډی لنډي وایه

که یار دی بل وی راته راکړه جوابونه

***

که دی خندلی راته نه وای

غریب سړی وم په خپل لار به تیریدمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې سوري وينې ترې څاڅي
دجدايي کچکول يې لاندې کړځومه

***

په ما دې ټول کلي خبر کړ
په تا دې يو دادا خبر شو زړه دې چوينه

***

پاس په کمره ولاړه ګله
نصيب دچاې اوبه زه درخيژومه

***

چې ګناهونو ته دې ګورم
يوه ګوته ځاې دې په جنت کې نه وينمه

***

جلې چې وديږي خوشحاليږي
په سترګو ژاړي په زړه ګوري ماتوينه

***

د جګو غرو نه مې راټيټ کړې
په سمه لار کې بلا وخوري مينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه خبری کړی شونډی دی ریږدی
ګمان کی کیږی دیاری اخلی لاسونه

***

مخ دکابل خله د بت خاک دی
سینه دی د پکتیا شینکی باغونه

***

په توره ټوک شی مړ مه شی
د بی ننګی اواز دی رامه شه  مینه

***

مینه یم منکره نه یم
که شینکی خال می د چڼو په څوکه ځینه

***

سترګی می ډکی ډکی کیږی
ستا د سرو جامو تصویر می ولیدنه

***

عاشق سړی د رنګه تور وی
سوی په اور وی معشوقو رټلی وینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی بیا تنور لمبه کړ
د ډوډۍ پرق یې څوارلسم کلی ته ځینه

***

د مسافرو به څه حال یوی
یا به نهار وی یا به سپو خوړلی وینه

***

که ګنهکار یم خدایه ستا یم
د بیغمبر امت می څه له ځوروینه

***

د تعویذو مزی دی لنډ کړه
په عاشقانو دی زیړی ولګاوونه

***

په تور لحد کی به ناری کړم
زه د دنیا نه ارمانجن راغلی یمه

***

د تور لحد غاړی ته راشه
که څه نه وی راته پورته کړه لاسونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمسافر مرګونه دوه وی

یومسافر وی بل به کفن له کومه کړینه

***

افغانستان چری چری شو

هره چره کی شهیدان ناری وهینه

***

راشه دا تور لونګ می واخله

یار می شهید شو لونګ چاته واچومه

***

زما چهارګل څلور پری دی

داسی تیری دی هر سړی حلالوینه

***

جلی د ټیکری پیڅی نه نیسه

که د یاری مطلب یی وی کړه به شینه

***

چه په  مین شوی پری یی نږدی

که خور دی نه وی زړه مور ورکړه مینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

چهارګل مې ستا په بريت کې خښ شو
تر دروازې پورې جوړه درسره ځمه

***

ياري دې غټې جلې خوند کړې
وړه دې ورکه شه نوکرۍ لګوينه

***

سترګې خو تا ورکړې خدايه
دا نرې بانه يې په زرګر جوړ کړې دينه

***

زه په مين سړې پوهيږم
سر يې ببر وي ګريوان څيرې ګرځوينه

***

د جانان زيړې زيړې سترګې
لکه وزې ته چې لنده کش کړې مينه

***

تابوت مې مه بندوه ياره
دا مې وعده دې بيا دنيا ته نه راځمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو سترګک به دی مین کړم
نه به دی یار کړم نه به درکړم ځوابونه

***

لحده ښه خدمت یې وکړه
زما جانان د ارمانو سره درځینه

***

چه په ورکړی مین نه شی
سبا به سری سترګی ولاړ وی بل به یې وړینه

***

سترګی د ستا سترګی زما دی
ماتاته کله د یاری ویلی دینه

***

په جنازی می بیړه وکړی
ناوخته کیږی نابلد وطن ته ځمه

***

د جګو غررو توره خاماره
تا چې خوړم خبره کړی به دی ومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مخ مې سپينې اوښکې راشي

ستا چې وړه وړه خندا را ياده شينه

***

کلي کې مشر سړی خوند کړی

لکه جنډه د پادشاهي ولاړه وينه

***

نن بې موره لور ودېږي

څوک به خندا کړي څوک شونډې بوڅوينه

***

ملا به خپله لور مين دی

نه په روا دی نه يې بل ورکوينه

***

مه انديښنې کړه مه ځورونه

انديښنې وينه وچوي رنګ زيړوينه

***

د توی نه پورې ياری مه کړه

يا به باران وی يا به توی راغلي وينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتا یاری می کړی نه وای
ځان می د سیند په څپو وړی وای مینه

***

کله به وم کله به نه وم
زما یاری په ږنګه مه بوله مینه

***

چاته می هیڅ ویلی نه دی
بی موره زوی یم هر سړی می تنګوینه

***

بنګړی نیم کارته کړه نیم پورته
مړوند خالی کړه چی زه سر ولګوومه

***

اسمعیل خان می مسافر شو
همزولو ځکه ژوندون خوند نه راکوینه

***

نه می هیریږی خنګه وکړم
د اسمان تر ستورو ډیر دی شول کالونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه لوی اختر ته راشه

ما په کوچنی اختر کی ډیر ژړلی دینه

***

ستا د یوی ورځی خنداوه

زه به ژړا درپسی ټول عمر کومه

***

زړګی منلی یار می ته یی

هسی په خوله خندا له نورو سره کړمه

***

مسافری دی ډیره وکړه

رب دی نصیب په خپل وطن وکړه مینه

***

که زړه ته سل ځل تسلی ورکړم

په سترګو لیدلی جانان کله هیرویـنه

***

وطن د سرو ګلونو باغ دی

دمسافرو پکی نشـته نصیبونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه خپل وطن ته راشه

تا په پردی وطن کی څه لیدلی دینه

***

مسافری دی ډیره وکړه

رنګ می دی هیر دی به نامه دی یادومه

***

وړکیه مین یی که غریب یی

چی تور کالی دی روزانه په غاړه کی وینه

***

که چا لونګ لیدلی نه وی

پیغله خوله که د لونګو بوی تری ځینه

***

دیوال سوری کړه ګوتی راکړه

پلار دی ختګر دی بیا به جوړ کړی دیوالونه

***

د مسافرو مل شی خدایه

د زړه په مینه تیروی د یار غمونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ستا په دوه سترګو مین یم

که خلک نور ګمان کوي ړانده دي شینه

***

مسافر تلی درجګه نه شوم

ګیله من نه شي زه سلګو نیولی ومه

***

عمر د غم راباندې تیر شو

داباقي عمر که لمبه شي تیر به شینه

***

ځوانی زما لکه ګلاب دی

لاسونه مه راوړه زړی زړی به شمه

***

ما دخپل ځان نه جدانه کړی

چه تا سره یم زړه زما خوشحاله وینه

***

لاس می د غاړی راچاپیر کړه

چې می پوره شي د مین زړه ارمانونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافر تلی درجګه نه شوم

رب می دی شله کړی په دواړه زنګنونه

***

جانانه څه لوبې دی وکړی

ته بې وفا شوی زه یوازی پاتې شومه

***

په ناموس جنګ په وطن جنګ دی

د وطن جنګ ته په غورځنګ ورځه مینه

***

په جنازه کې می ګل کیږده

چې د لاس نښې دی په قبر می ساتمه

***

مخ ته می مه ګوره کافر شوی

زه مسافر لالی په خدای سپارلی یمه

***

مینی دی داسی لیونی کړم

بازار ته لاړ وم په سودا نه پوهیدمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینی دی داسی لیونی کړم

ورځ د شبې وه زه د جمعې لمانځه ته تلمه

***

جلکی په باغ کی کالی مینځی

ټیکری یې نشته مخ په پاټو پټوینه

***

یار می ټوپک زه یې ګولی یم

په تورو غرو می ګرځوی ورکه یې کړمه

***

غم د د زغم خبره نده

نور به په چیغو چیغو کلې خبرومه

***

په کټ کی دوه ګوتی ځای راکړه

لکه لړم به دیوالو راغلی یمه

***

زړه چې مین شی سترګی ژاړی

بانه ولاړ وی اوښکی غواړی رخصتونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه چې دواړه سره لاړ شو

په زیارتو به ګرځوو ګګر سرونه

***

راځه چې دواړه سره لاړ شو

وروستی خبری به سپینږیری لندوینه

***

په ونه داړه سره سم یو

په تامی تیر دی ګړګتی څڼو سرونه

***

سترګی دی ښی دی چی وړی دی

که لږی غټی وای خوړلی به دی ومه

***

زړه می سوری وینی تری څاڅی

هم ظالمانو په چړ وهلی یمه

***

مازدیګر مه ګوره ما ګوره

مازدیګر تل وی زه به کله ومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله ته اوسی جانانه
که زما ټول عمر د غم وی او تیر به شینه

***

په لوړو غرو رانه پنا يې
سپینی سپوږمۍ ته سلام کړه سلام به کړمه

***

ګریوان می ټول په اوښکو لوند دی
ما د اشنا له غمه ډیر ژړلی دینه

***

زړه به می ولی نه دردیږی
به ما شرمیږی وایي نه دی پیژنمه

***

د دیدن ټایم راته بدل کړه
مور می شکی شوه ما ګودر ته نه پریږدینه

***

که باران اوری ودی اوری
واری دی نه اوری چی لاری بندوینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د زلمو نه پوره نه شوه

ګرانه وطنه جینکۍ به دې ساتینه

***

ته د شپې په خوب کې راشې

ته په خندا شې زما اوښکې په مخ ځینه

***

لحد مې ټول په وینو سور شو

د بیلتانه په چاړو غوڅ راغلی یمه

***

چې مازدیګر پرې ښایسته کیږي

هغې جینۍ له مور منګی نه ورکوینه

***

والسلام

په احترام

# لیکوال: اسمعیل خان «امینی»

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**